مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: کلنل سرهنري ميکماهن
ژباړه، څېړنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشید
۲۰۲۲/۰۹/۰۹

# ورځـلیـک

## (روزنامچه)

## (د ۱۹۰۶ کال د دسامبر له ۳۱ څخه د ۱۹۰۷ کال د مارچ تر ۷ پورې)

لومړۍ برخه

(CONFIDENTIAL)

DIARY OF COLONEL SIR HENRY McMAHON, K.C.I.E , C.S.I , CHIEF OFFICER ON SPECIAL DUTY WITH THE AMIR OF AFGHANISTAN.FOR THE PERIOD FROM 31st DECEMBER 1906 TO 7TH MARCH 1907

**(محرم)**

**(د هند ملي آرشيف – بهرنی څانګه)**

د افغانستان د تولواکمن لپاره د ځانګړې دلي او ځانګړي پلاوي مشر

کلنل سرهنري میک ماهن

ليکوال: کلنل سرهنري ميکماهن

ژباړه، څېړنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشید

۱۳۹۲


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ



HABIB ULLAH, AMIR OF AFGHANISTAN.
A Full-Dress Portrait.






## د ژباړونکي مقدمه:

**بارک الله فی السراج المنیر　　　صاحب الامر ماله من نظیر**
**انت احییت دین احمد المله　　　فالدهرصارخیرالدهوو**

« چراغ روشن صاحب حکومت مین خدا برکت دی جس کی کویی نظیرنهی ، تم نی دین احمداورشریعت کو زنده کردیا پس یه زمانه بهترین زمانه هین » ( شمس العلما ډاکتر مولوی حافظ نذیراحمد ، نظم بی نظیر ص ۱۹۷ )

دامیرحبیب الله دغه سفرنامه دمعاصرافغانستان دتاریخ اودیپلوماسی یوډیرمهم څېرکی جوړوي،دغه سفرنامه یونادر اوناچاپ اثردی چي تراوسه پوري یي څرک زموږ لیکوالو ته نه و څرګند اوما دلومړي ځل لپاره د انګریزي آرشیفي موادو له منځه راویسته، زما لپاره دغه اثرله دي امله ډیرمهم وایسیده چي په ترڅ کي یي یوزیات شمیرخبري چي نه یوازي پرهغه مهال دیوه واکمن دکړووړواستازیتوب کوي بلکه دادنوروهغوی لپاره چي دسیاست اودیپلوماسي په برخه کي په کاربوخت دي هم په هراړخیزه توګه دیوي اړيني لاربنودني ځای غوره کولای او نیولای شي .
دغه سفرنامه اوخاطرات دیوه داسي انګریزچاروکي له خواچي هغه کله هم ترخپل دولت اوخپلي پالیسي نورڅوک لوړنه شي بللای لیکل شوی دی،دیرداسي څه مي هم په کي وموندل چي هغه دافغانستان ددغه نومیالي واکمن (امیرشهید ) د زمان او کړو وړوپه باره کي زموږ لیکوالونه ویلي اونه یي لیکلي دي .له بنه مرغه یا بد،زموږ یوشمیرمورخینواولیکوالوچي هرڅه ددغه امیرپه اړه ویلي هغوی یوازي هماغه یوه د (بنځلیواتیا) خبره کلکه نیولي چي زموږاوزموږ دتولني په وړاندي یي یوشمیرله بنه نیته اویاپه غیرشعوري ډول په غرضي بنه په غیرموجه یا موجه؟ توګه طرحه کوي ، له دغي یوي خبرې پرته نورڅه په دغه برخه کي نه وایي او نه یي په ډیرو وختوکي د ویلو جرآت کړی دی.څکه چي یا یي اسناد نه لرل اویا داچي دحقایقو پرویلویي په هرملحوظ چي ول سترګي پټي کړي دي . د دوی ټولو لیکني یوازي پرهمدغه یوه ټکي باندي راچورلي چي فکرکوي زموږ دغه ټولواکمن یوازي له (بنځلیوالتیا ) پرته نورنه څه کمال درلود اونه هم جمال . په داسي حال کي چي داپوه طبعي خبره اوانساني میراث دی چي څوک یي اظهاروي اوڅوک نه اویایي هم دځرګندو عواملو له مخي په ویلواویه ډاګه کولو باندي ځان غلی نیسي، اوکه نه امیرخپله دا وړتیا اویا د دوی په وینا نیمګړتیا نه له چا پټوي اونه له چا په دغه برخه کي ډاریږي :
**په ښکاره ناري وهم چي خوله یي راکړه .**
دایوه وړه یادونه وه ، امیرحبیب الله خان زموږ په معاصرتاریخ کي له شکه پرته یو داسي واکمن دی چي دنوي اوعصري افغانستان دتمدن اوپرمختک دبنسټ ډېره نه یوازي په هیواد کي دننه بلکه دهند په نیمه وچه کي هم دده په لاس ایښودل شوي ده .عصري ښوونځي ، برښنا ، موټر ، سرک ، کمره ، اخبار ، کانونه ، باغونه ، بندونه اوماڼی ، تاریخی ابداتو ته پاملرنه ، دعلیګړیوهنتون وده ، دتاج محل ترمیم، د لویدیز تمدني ځانګړنو منل اودودل،هنر پالنه ، مذهب ته درناوی ، سیاست پوهنه او په سلګونو نورداسي ټکي دي چي دهغو له امله موږکولای شوخپل دغه ټولواکمن په نوموړو برخوکي نامتو، مخکښ اوموسس وبولو. زما ددغي ژباړي لوی اومهم موخي هم د امیرحبیب الله خان پرځانګړي پوهه، اړیکو ، سیاست او علمیت باندي راڅرخي هغه چي یوه پردي، یوه انګریزمامور چي دی یي شپه اوورځ څارلي او لیدلي اوبیایي قضاوت ورباندي کړي او لیکلي یي دی . دهمدغه ټکي په پام کي نیولو سره دویلو وړده چي نوموړي انګریزدغه اثردخپلو مشاهداتواو کتنوپه پایله کي لکه چي خپله وایي ددغه **فوق العاده انسان** په اړه لیکلی اوبیایي دده له را تګه وروسته د خپل حکومت اوادارو په واک کي دیوه محرم سند په توګه ورکړی دی .
زه دا نه وایم چي امیربه له نیمګړتیاووخالي وي،خو دا به هم بې انصافي وي چي د یوچا، دیوه واکمن په یوه نیمګړتیا باندي دی دهغه پرډیرونوروښکلاووا و وړتیاووباندي سترګي پټي شي، سراج الملته والدین امیرحبیب الله خان د پولادي امیرعبدالرحمان خان زوی دی چي په کوچني عمرله خپل پلارسره له سمرقند څخه د نولسمي پیړی په اتیایمه لسیزه کي را ستون شواود ژوند ترپایله بیا له افغانستان څخه لکه یوزیات شمیرنوروواکمنان نه وشړل شواونه هم دباندي ووت .
داچي پلار یي له دودیزوزده کړو بی برخي پاتي شوي و، پرده باندي یي دخپل وخت دود علوم ټول په تیره بیا اسلامی علوم ، قران کریم، ادبی علوم ، لکه خواجه حافظ ، بیدل او مولانا اوهمداسي پښتو ژبه اودهغي کلاسیک ادبیات ولوستل اوځان یي په رښتیني توګه ورباندي ملا کړ.همداوه چي په اکثروبحثونواوخپلواستدلالونوکي یي ددغو ژبو دکلاسیکوشاعرانوله شعرونو او آثارو څخه یادوني کړي چي په دغه اثرکي ځای پرځای اشاري هم ورته شوي دي .
په دغه ورځلیک یاسفرنامه کي ترهرڅه دمخه موږ امیرحبیب الله خان په یوه بشپړه بله څیره کي چي دخپل هیواد په تاریخ ، سیاست اوپرتم باندي د زړه له کومي باوري دی او مینه ورسره لري وینو، سره له دي چي دی له انګریزانوسره کله هم د ټکر پرپوله باندي ګام نه ږدي اونه یي پخوا په دغه برخه کي دا جرآت کړی دی، دی دانګریزانو له خوا په سیاسي اومالی لحاظ ملاترکیږي،خو له دي سره سره بیاهم په ډیرو برخو کي ځان په معنوي اوتمدنی لحاظ ترهغوی ټیټ نه بولي او نه غواړي دوی ته وښیي چي ګواکي دی هم لکه هندي نوابان ددوی د لاربښوني اواړیکو په برکت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

دتش په نامه واکمن په توګه ځان ښودنه کوي .ده له شکه پرته ځان دیوه داسي واکمن په توګه انګریزانوته وروپیژاند چي دوی خپله دده په افغانی وړتیا باندې سره له دې چي انګریزان داکارپه سختی سره مني  بیا هم معترف شول اوله ده سره یې په خپلوسیاسي او ټولنیزو معاملوکي ترډیره حده دیوه خپلواک اوبرلاسي واکمن په توګه معامله اوچلند وکړ. په ډیرو برخو کي خو ان د انګریزانو لپاره هم لاربنود شوی اوترډوی یې زیات ځان با فرهنګه او با سواده ښودلی دی .

**ددي لپاره چي په دغو رازونو اورمزونو موځان ښه پوه کړي وي دلته په لنډه توګه له دغه اثر سره اړوندغواړم دامیر پر یوشمیرجالبو سیاسي،فرهنګي اوملي کاروایيوباندې لنده رڼا واچوم :**

**لومړي: په سیاسي برخه کي :**

امیرحبیب  الله خان د خپل پلارامیرعبدالرحمان خان له سفره نژدی (۲۱) کاله وروسته هند ته دغه تاریخی اواوږد سفرپیل کړ،عبدالرحمان خان په ۱۸۸۵ کال کي هند ته سفروکړ، خو دا دده لپاره په سیاسي لحاظ ښه وخت اوښه  شرایط نه ول چي ده باید پرهغه لوري سفرکړی وای،همداوه چي دغه سفردده لپاره نه کومه بریا درلوده اونه یې له انګریزانوڅخه پرته له خواشیني او ناهیلی بل څه ترلاسه کړل،ترټولو بده لا دا چي دده دسفرپه ترڅ کي روسانو پرافغاني پوله باندي په داسي حال چي انګریزان هم لاپه سیمه کي ووپه یرغل لاس پوري کړاوله افغاني خواکونوڅخه پنجده ونیوه ،هغه سیمه چي ترننه پوري بیا دافغانستان نه شوه.(  دزیاتومعلوماتو لپاره غبار افغانستان درمسیر ص ۶۷۵) .

دعبدالرحمان دپیښدی دخبرو په ترڅ کي انګریزانوعملاًپر روسي یرغل ځان ناګار واچاوه او امیریې هم له یوه ساړه هرکلي وروسته چي دي خپله هم ښه پرې پوهیده له نیمي وچي (هندوستان ) څخه بیرته کابل ته را رخصت کړ. په عین حال کي داهم باید ووایو چي انګریزان پر دي لاهم باوري نه ول چي عبدالرحمان باید د اوږدي مودي لپاره دافغانستان پرواک باندي ډیډه ولګوي ، کورنی ستونزي اومقاومتونه ، په هندکی دغازي ایوب خان او امیرمحمدیعقوب خان ساتل داټول هغه حقایق وو چي انګریزانو دده په ژوند پرهغو باندي په دقیقه توګه کارکاوه. یوه خبره چي ماته دانګریزي اسنادو له مخي  په دغه اړه راپه ډاګه شوه،هغه داده چي انګریزانود دیورند کربښي لپاره په همدغه وخت (۱۸۸۵) کي  دا لاره چاره برابره کړي وه اوپه ورشونتیاوو سره یې دافغانستان پرزړه باندي ددغي کربښي د را ایستوپلان ترلاس لاندي نیولی و )د دیورند په اړه زما اثر ناچا پ(، انګریزچارواکی دیورند دامیرعبدالرحمان ددغه سفرترمهاله په دي سوچ اوفکرکي وچي د دیورند دکربښي دعملي کیدواولاسلیک کولو لپاره هم ترهربل واکمن ښه اومساعد سړی امیرمحمد یعقوب خان دی، ځکه دهغه په زمانه اوواکمنۍ کي دوی پرهغه باندي د ګندمک تړون هم لاسلیک کړی و،او اوس هم هغه تیار له دوی سره په هند کي بیاهم دغه کارته ساتل شوی ناست و. خو دامیرعبدالرحمان خان دغه سفر(۱۸۸۵)  دغه پلان ګرد سره بدل کړاومکارانګریزي سیاستوال (دیورند ) اویوشمیرنورو چي فکربي کاوه عبدالرحمان خان د ژوند ډیره برخه له روسانو سره په تبعید کي تیره کړي ،کیدای شي دهغوی له خوا ګمارل شوی وي   ،ځکه یې دبلتانه د دغه پلان لپاره وړخوک نه باله خوکله یې چي له نژدي ولید او په  دغه سفرکي ورسره مل شو بیایی درک کړه چي د افغانستان پرزړه باندي ددغي کربښي د را ایستولپاره امیرعبدالرحمان هم برابرسړی دی او دوی کولای شي دده په شته والي سره پردغه مهم باندي لکه څنګه چي غواړي هغسي  بري ومومي .

دامیرعبدالرحمان او مارتمر دیورند دوستي هم له همدغه سفره وروسته پیل شوه ، هغه دوستي چي دهغي په ترڅ کي یې امیر ته په شاتو کي زهر ورکړل اود دیورند دکربښي تړون یې له دغه سفره  (۸) کاله وروسته  دده په خپله پلازمینه کابل کي ورباندي لاسلیک کړاو دافغانستان یوه خورا مهمه برخه یې ددغه لرغوني هیواد له پیکره پرته له دي چي پردغه لیکه باندې دیرتوخلکواراده ورسره وي د ۱۸۹۳کال دنوامبر په میاشت کي دیوی  معاملي په ترڅ کي بیله کړه .

عبدالرحمان خان له دغه سفره وروسته ځوځلي هڅي وکړي چي باید ځان لندن ته ورسوي اوخپل اړیکي دویسرایی هند پرځای له ملکه یې لندن سره ټینګ کړي،ډیره موده وروسته یې دیوه ناځرګند مصلحت له مخي  لندن ته دتګ بلنلیک ترلاسه کړ،خوامیرد یوشمیرلاملونو چي په هغوکي دلندن زړه نازړه توب اونارضایتی روښانه وه  ونه غوښتل چي لندن ته ولاړشي چي داکار په خپل ذات کي  دپیښدی دساړه سفردساړه هرکلی لامل هم بللای شو، ځکه یې خپل کشر زوی شهزاده نصرالله خان دځان پرځای له ډیروخبرو اترو وروسته هلته له ډیروسپارښتنوسره واستاوه.  که څه هم ده ډیري ښي اومهمي لاربښوني ورته وکړې، اودشهزاده هم په درناوي سره په لندن کي هرکلي وشو، خو ګټه یې ونه کړه اوامیرهمداسي په سیاسي لحاظ  د هند وستان د ویسرای ترقومانده او حکم لاندي پاتي شو. اودیپلوماتي امیرهغي ځیرکي لکه چي یوشمیر وایی چي ده غوښتل خپل سیاسي اړیکي یې له لندن سره نیغ په نیغه وتړل شي عملي بڼه ونه مونده اوافغانستان په باندني سیاست کي ان دده ترلمسي (غازي امان الله خان ) پوري دانګریزي سیا ست ترسیوري لاندي  خپله سیاسي تګلاره چلوله .

دعبدالرحمان خا ن له همدغه تاریخی سفره  یاده موده وروسته سراج الملت والدین امیرحبیب الله خان د ۱۹۰۶ کال د دسامبرپه میاشت کي خپل سفرهندوستان ته پیل کړ،دایوجالب سفرو، دادهرچا خپله رایه اوخپل نظردی چي هرڅه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

دهغه په باره کې غواړي ولیکي او ووایي، خو زه په دغه اړه دومره ویلای شم چې امیر حبیب الله خان دخپل دغه تاریخی سفرپه ترڅ کې پرهغه دریځ اوهغه روحیه نه ښکاری لکه چې پلاریې په خپل وخت کې ښکاریده، دی دهمدغه سفرپه ترڅ کې له خیبره ترزرو زیاتووسله والو سرتیرو سره دانګریزي واکمنۍ زړه ته پرته له دې چې دی دبیلتون کرښه په پام کې ونیسی په یوه ځانګړي پرتم سره ننووت، دامیردغه سفرپه هراړخیزه توګه ان که یونمایش هم و،خوده ددغه سفرپه ترڅ کې ځان دیوه بشپړاوخپلواک واکمن زبرځواک په وړاندې په خورامهارت سره دسیال په توګه هغوی ته ور وښود ، ددغه اثرلیکوال (سرهنري مک ماهن ) چې ددغه سفر په اوږده موده کې دامیرمیلمه پال،لارښود اوترجمان دی دخپل اثرپه پیل کې لیکي :

»افغان استازی راغی څو له ماسره وګوري اودخپلې هغې کتنې بشپړراپورراکړي هغه چې پرون یې له امیرسره نیژدې شپږساعته ترسره کړې وه ،هغه کتنه چې دهغې په ترڅ کې دامیردسفردتیاري په اړه وروستۍ پریکړه هم شوې وه، هغه ما ته هغه لیک هم راوښود چې امیر ورکړی واو په هغه کې یې لیکلي وو چې دده په درناوي اوهرکلي به دانګریزي حکومت له خوا دتوپ (۳۱) ډزې ترسره کیږي، ځکه چې له دود سره سم په افغانستان کې دده لپاره په دغه شمیرد درناوي ډزې دود دي ،په دغه لیک کې دالاندې ټکي په خپله دامیرپه لاسلیک ورزیات شوي وو :

**"ددغه ټکی لپاره لامل دادی چې یوکوربه باید خپل میلمه ته ترهغې کچې لږ څه ونه کړي لکه چې په خپل کورکې یې لري " .**

مادغه ټکی په بیړه دهندحکومت ته ورتلګرام کړاوله هغوی مې په دغه اړه دامراولارښوني غوښتنه وکړه ، زما لپاره دادیره ګرانه شیبه په دې وه چې که ما دده هرکلي په (۲۱) ډزو سره کړی وای ، کیدای شو دغه ټکي ته امیرګوته نیولې وای او دایې غوښتي وای چې باید دغه شمیرزیات شي . په دغه حال کې به بیا زه په داسې یوه دریځ کې وم چې نه به مې زیاتولی شواو نه هم لږولی ... »

زیاتره لیکوال اومورخین دا خبره کوي چې امیرحبیب الله خان هم دانګریزانو په وړاندې هم هغه دریځ درلود لکه چې پلار یې امیرعبدالرحمان خان درلود، خو زه بیا وایم چې نه، دعبدالرحمان سیاسي دریځ اوحالاتو له حبیب الله خان سره توپیردرلود، دده په وخت کې انګریزانوته هم هغه واک اوځواک اوس نه و پاتې لکه چې دعبدالرحمان په عصرکې یې درلود ،همداده چې امیرحبیب الله خان دخپل پلاربرعکس په دغه سفرکې ددغه اثرله مخې له پیله ترپایه خپله رایه اوخپله خبره درلوده ، داسې چې هغه (امیر) هرڅه انګریزانو ته په ډاګه ویلای شول اودهغې دیپلوماسۍ تګلاره یې ورسره شړله هغه چې د دوه اړخیز درناوي او دوه اړخیزوګټو پربنسټونو باندې ولاړه وه آیا په اوسنی عصرکې یوواکمن داجرآت لري چې دده لپاره باید داسې اویاهغسې تشریفاتي مراسم لکه چې امیرحبیب الله په خپله جمله کې لیکلي ، لیکلای اویا غوښتلای شي چې » : **یوکوربه باید خپل میلمه ته ترهغې کچې لږ څه ونه کړي لکه چې په خپل کورکې یې لري»** ؟

فکرکوم چې داخبره په سیاسي لحاظ خپله معنا لري او دامیر پوره برلاسی په ګوته کوي .

ځکه نوزه په دغه اړه زموږ د ګرانوپه اصطلاح مورخینوله نظریاتو سره دمعتبرو اسنادو له مخې یوه خوله نه یم لکه چې وایي حبیب الله خان خپله اراده نه درلوده ، په دې چې امیرحبیب اله خان تردغه سفرلادمخه وکولای شول چې ډیرڅه په تیربیا په علمي او فکري لحاظ له انګریزی سرچینو پرته له بیلابیلو ملکو څخه ترلاسه کړي . داځکه چې له یوې خوا نړیوالو شرایطو بدلون موندلی واو له بلې خوایې په هیواد کې دننه هم دیوه فعال روڼ اندي ځواک لپاره د ودې لاره پرانیسته .دنویو اوعصري ښوونځیوجوړولوفکرده په عملي توګه په افغانستان کې پلی کړ،حبیبیه ښوونځی اونور دده له سترو بریاووڅخه ول لکه چې خپلې دغې بریا ته دلته په دغه اثرکې هم اشاره کوي ، معناداچې دده هرڅه دیوه دموکرات حرکت په ترڅ کې دپاملرنې وړ وو، نړیوال اړیکي هم اوس ترعبدالرحمان خانۍ په هراړخیزه توګه بدل شوي وو اوبدلون یې کړی و. انګریزانو دهند هرڅه ویسرای ته سپارلي وو،معنا داچې هغه دهنددوستان مستقیم انګریزواکمن و، خوامیرجبیب الله له هغه سره دمتقابل چلند تګلاره دځان کړه اوپه سیاسي لحاظ یې هم ځان دهغه په وړاندې په هغه دریځ کې نه دی درولی لکه چې د دوی تروواکمنیولاندې واکمنانواو نوابانو په سیمه کې درلود.

په دغه اړه راځۍ دامیردریځ له میک ماهن څخه واورو :

**« زه یوڅه نورهم په جزیاتو کې ورننوتم اوده ته مې په هندکې دویسرای اوله هغه سره یوځای زموږ ددرباري غړو، دډهلي ددربار اوپه ۱۸۷۵ او ۱۹۰۲ کالونوکې دهغو درباري مراسمو په اړه چې دانګلستان دپاچا اونورولپاره نیول شوی وو رڼا واچوله.خوداسې ښکاریده چې داهرڅه بې فایدې وو، ځکه هغه باید پرهغه ځای چې دویسرای لپاره په نښه شوی و له هغه سره یوځای ناست وای ، نه چې ترهغه په ټیټه کچه، هغه پر دغه هوډهم نه وچې له ویسرای سره باید نژدې کینی، خودایې ویل چې دی باید له هغه سره په یوه لین کې ناست وي.هغه په ربښتینې توګه پرتولو شیانو پوهیده او د ویسرای اوچت اومهم دریځ هم ورمعلوم و. ماهرڅه په خپلواوږو واخیستل ، دامې هم وویل چې زه ډاریږم چې دی په دغه ترڅ کومه ناشونې پوښتنه رامنځ ته نه کړي. لکه چې داآوازه وه ، نه چې دی په مراسموکې له برخې اخیستنې څخه انکارو کړي؟ نه چې یوځل دخپل پرتم برعکس دخلکو منځ ته داخبره ورشي چې ده له دې امله انکاروکړ،چې هغه څه چې ده ته ویل کیدل هغه یې ونه منل ؟ !»**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بله  خبره چې په دغه اړه  په سياسي لحاظ دپاملرنې وړ ده هغه داده چې اميرحبيب الله خان ، په واحدهندکې ديوه مسلمان پاچا په توګه له يوه درانه هرکلي سره مخامخ شوی ، دا به ډيره نادره خبره وي  چې په دغه اثرکې اشاره ورته شوې،چې کله امير  هندوستان ته را داخليږي بيا ترهغو پورې چې له هندوستان څخه بيرته ستنيزي په ټولو ښارونواو جامع جوماتونو کې دده په نامه خطبه ويله کيږي . زه نه پوهيږم چې ددغه ټکی معنا او اهميت به په اسلامی اوشرعی لحاظ څه اوڅومره وي ؟ آيا داخبره  په داسې يوه حالت کې چې د ټول هندوستان واک اوبرخليک د انګريزپه لاس کې دی د افغانستان داميرلپاره د پوښتنې وړ نه وي ؟  طبعآ چې ده ، خوله بده مرغه چې موږ اوزموږ غرض لرونکو ليکوالو دغه حقايق زموږ له سترګوپريوه خوا ساتلي دي او ياداچې دوی هم نه ووپرې خبر، ميک ماهن ليکي چې  :

**« زموږ خبرې زرځکه پای ته ورسيدې چې اميربيره درلوده چې بايد ځان جامع جوماتت ته دجمعې دلمانځه لپاره ورسوي.ما هم ورته وويل چې دې بايد لمانځه ته ولاړشي ځکه چې هلته به دلوي جامع جوماتت ملا دده په نامه خطبه وايی اودده نوم به داسلام دسترپاچاپه توګه يادوي. خطبه لکه څنګه چې زه پوهيږم يوازې دهيواد دپاچاپه نامه سره ويله کيږي ،خو زه په دې زيات باوری نه يم چې دغه خبرې چې ماته راکړې شوې ، هغه به ترکومې  اندازې ربښتيا وي . داميرپوځيان دهغوکوڅوپه اوږدو اولنډوکې ولاړ وو هغه چې ترجامع جوماتت پورې غزيدلې وې، دغه تياری چې زموږ له نظره هم نامنظم و اوهم له انتظاره لرې، زه داهم نه شم ويلای چې که موږ پوهيدای چې داسې ګډوډې به وي، کيدای شوه چې اجازه مو نه وای ورکړې، خو زه فکرکوم چې دهرڅه په اړه به دځوريدو وړخبره نه رامنځ ته کيده»**

لنډه داچې داميردغه سفردافغانستان په تاريخ کې په سياسي لحاظ دځانګړي اهميت لرونکی سفر و،ده ددغه سفرپه ترڅ کې دهندوستان له ټولو سياسی جريانوڅخه ځان په هراړخيزه توګه خبرکړاو په هند کې يې دانګريز سياسي پاليسۍ هم په هراړخيزه توګه ترنظرتيره کړه، يوازې دابايد ووايو چې اميرپه ټوليزه توګه په هندوستان کې دداسې چا په توګه چې ګواکې دی دافغانستان واکمن دی، ددغه سفرپه ترڅ کې راونه ځليد بلکه بايد ووايو چې ده ته هندوستان په دغه ځانګړې پړاوکې ، چې له دغه اثره هم څرګنده ده دداسې هيواد په توګه ښکاره شو لکه چې دی په ربښتياهم له دغه هيواد سره په سياسي،تاريخي او فرهنګي لحاظ تړلي اړيکې لري او ځان اوس هم ددغه هيواد په اوږدو او لنډوکې ديولوی افغان مسلمان واکمن په توګه ويني  .

## دويم : په پوځي برخه کې

په دغه برخه کې پريوه پوښتنه باندې بايد ټينګاروکړم اوهغه داچې داميرحبيب الله خان هدف له دومره زيات شميرپوځيانو څخه چې له ځان سره يې تراګرې اوډيلی پورې بوتلل څه و؟ په دغه اړه موږ بياهم له خپلو مورخينو هيڅ هم ونه لوستل اونه مو په دغه باره کې ديوه جامع ځواب په لټه پسې ځان ستړی کړاو يا داچې ولې مو په دغه برخه کې ځان داسې آرام نيولي چې ګواکې هيڅ هم نه دي شوي، برعکس اميرحبيب الله خان داسې يوڅوک معرفی کووچې ګواکې ده کله هم په ملي مسايلوپورې اړوند نه فکرکاوه اونه يې دغې خواته پاملرنه وه، په دغه اړه مو يوټکې بايد په ياد وي اوهغه داچې ډيری چا چې دافغانستان په اړه دتاريخ په نامه څه ليکلي اويايي په دغه اړه هڅه کړې ، دوی له بده مرغه په خپل وخت کې دخپل مهال د واکمن سترګو ته کتلي اوهرڅه يې دهغه ترنظرلاندې څيړلی اوتوضيح کړي دي ، زياتره ليکنې چې اوس زموږ په لاس کې دي،هغه هم دنادرخان او دده دکورنۍ په اشارو ليکل شوې، داچې ښه کارشوی اوکه بد زه په دغه اړه څه ځکه نه وايم چې که داهم نه وای شوي بيا به مو څه کول اوڅه به مو ويل،د دوی په عصرکې يوشميرکارونه ترسره شوي چې په هغوکې دليکوالواوڅيړونکو برخه هم له پامه نه شي لويدای ، همداده چې په دغه دوره کې يوشميرليکوالو په تيره بياد امان الله خان او دهغه دکورنۍ په اړه دحقايقو ويلو په ترڅ کې دخپلو ولي نعمتانو سترګو ته کتلي اوهغه څه چې دهغو په وياړونوکې راتلل هغه يې کله په شعوري اوکله هم په غيرشعوري توګه له پامه غورځولي دي ، دامان الله خان اوترهغه دمخه چې کومې کاروايی دافغانستان په بيا جوړونه او تمدني وړتيا کې ترسره شوې وې،دهغويادولواوليکلوته ترډيرو پورې جدي پاملرنه ونه شوه ځکه نوزموږ دتاريخ هغه هم دمعاصرتاريخ يولړحقايق له موږ څخه پريوه خوا پاتې شوې دي ، يوازې يوشمير خارجی مورخين اوليکوال لکه ( دوپرې ) او نور تريوه حده په دې توانيدلي چې په دغه برخه کې يوڅه وليکي چې هغه هم په دغه اړه زموږ تنده نه شي راماتولای همداده چې بايد په دغه برخه کې په خپله ناخبری باندې اعتراف وکړو اوهغه معروفه خبره چې لږه پوهه له ډيرخطرسره مله وي،په دغه اړه هم په پام کې ونيسو،)وګورئ کاکړصاحب خوله دې څخه هم انکارکوي چې انګريزان دامان الله خان ضد نه وو، ددې معنا داده چې موږ بايد داستعما رد سترګو له اشارو سره سمې خبرې وکړو اوس چې امريکا پروطن تاريخی يرغل کړی او کاکړصاحب خوله پټه پرې نيولې نوموږ هم بايد ووايو چې په وطن کې خيرخيرت دی، افغانان خوندي دي او امنيت برقرار ؟؟ )
زموږ لپاره داميرحبيب الله خان دوره ترډيره حده يوه ګونګه دوره ده ځکه چې ډيرې خبرې په دغه دوره کې دمعتبرواسنادو له مخې لاهم ناويلې اوناسپړلې پاتې دي. چې يوه هم په کې داميرحبيب الله خان د ۱۹۰۶ کال د اوږد مدتي مهم سفرخبره وه چې په تاريخي ، سياسي او فرهنګي لحاظ يې بيلابيل اړخونه اواهميت  درلود چې يويی هم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پوځي اهميت و. ديوه افغان لپاره داخبره اودهغې تفسيرډيرپيچلي نه دی،چې ګواکي ده ولي له ځانګړو پوځي تياريو سره ځان ترتش په نامه انګريزي هند پوله ( ديورند کرښه ) واړاوه ؟

په دغه برخه کې په يوه خبره ترموږاوان تراوسنيو افغان واکمنانو اميرحبيب الله خان ښه پوهيده چې هغه د ديورند د کرښې غيرانساني اوغيرافغاني بيلتون ټکی و. که اميرحبيب الله خان له ناچارۍ په سمبوليکه توګه دخپل پلارتګلاره له انګريزسره پرمخ بوتله وګوروئ نن چې دټولي نړۍ په سرکې د امريکا پوځونه دلته پراته دی موږ بياهم دهغې (امريکا) په وړاندی ځومره په ځان ساتی سره چلند کوو، ددغوځواکونو په شته والي سره تراوسه (۲۰۱۴) يوه واکمن هم په جرآت سره ددغې کرغيړنې کرښې په اړه داخبره نه ده کړې اونه يې دامنلې چې ګواکي دايوغير انساني عمل واوموږ يې نه منو .په داسې حال کې چې موږپه کټ مټ ډول سره وليدل چې يوشميراستعماراو زورزياتي بيلې کړې سيمې لکه المان اونوروغوندې پاشلي اوبيل شوې خلک بيرته سره يواو ديوه ملي هويت اوهيواد خاوندان شول خو زموږغږ تراوسه هم نه چا واوريد اونه هم تراوسه داتوان لرو چې چا ته يې ور واوروو .

ترامريکايی ځپاودمخه هرچا په خپل وس په دغه برخه کې يوڅه کړي اويوڅه يې ويلي دی، امان الله خان افغانستان آزاد کړ، هدف يې داهم و چې کيدای شوهغه غورځنګ هم په دغه حرکت سره راوپنځوي چې ترکرښه ورآخوا روان و او نن هم روان دی او لوی لارښود پاچاخان اودهند دنيمې وچې لارښونکو په هند اوپښتونخواکې لارښونه کاوه . ظاهرشاه په خپل وخت کې په دغه برخه کې دپاملرنې وړ تلاش وکړ، داود خان خو ځان همدغې داعيې ته وقف کړ اودپښتونستان جنډه ترکومه يې چې توان و اوچته وساتله، او دغه غورځنګ يې تر دوولسيزو زياته موده ژوندی وساته. په انقلابی او دموکراتيک دوران کې چې نړۍ د سړې جګړې لمنې ته ورولويده هم دغه غورځنګ لکه د داود خان دعصرپه شان تود او ژوندی وساتل شو،دهند دنامتو ژورنالست ګلديپ نير د وينا پر بنسټ حفيظ الله امين په دغه برخه کې لومړنی انقلابی مشر و چې دهند دوخت خارجه وزير اتل بيهاري واچپايی ته يې په کابل کې د ۱۹۷۹ کال درسمي سفر په ترڅ کې په ډاګه وويل » : **موږ او هندوستان تاريخی دوستان يو،خو زموږ دوستي تراوسه زياته پرخبرو ولاړه وه، اوس وخت دی چې تاسو بايد زموږ پيام هندي مشرانواوميرمن ګاندي ته ورسوئ او ورته وواياست چې که غواړی په سيمه کې دمشکل جرړي له بيخه وايستل شي، راځي يو ژمنه سره وکړو چې بايد دپاکستان پرضد له هغې خوا تاسو اوله دغې خواموږ يوه ګډه مبارزه پيل کړو څو دغه ګډ مشکل له منځه يوسو ... »**

ډاکترنجيب الله بيا په خپل وار له هغه مهاله چې دخاد مشروبيا ترهغو چې ولس مشرشو،په شعوري توګه پاکستان ته چې نړۍ په يوه افغاني ضد مرکزباندې بدل کړل شوی و،دسرپه کاسه کې اوبه ورکړې ،دپښتونخوا غورځنګ په پياوړتيا کې يی زياتې هلې ځلې وکړې اوهم هغه داودی عمومي حرکت يې دپښتنو د آزادۍ دغورځنګ په نامه راوهڅاوه، چې په مقابل کې يی دپاکستان څرګند اغيزاوقهرد جلال آباد په جګړه کې راڅرګند کړ،چې په پای يې ديوه سراسري افغاني مقاومت په ترڅ کې سرکوب اوجلال آباد حماسه يې له شکه پرته زموږ دمعاصرتاريخ د **دمقاومت په بهيرکې يو نه هيرودونکی ملي څپرکي شو** .

ترامريکايی غوبل لاندې په افغانستان اوپښتونخواکې پښتانه تکه تکه او له سختو ستونزو سره مخامخ شول،بې عزته شول ، په امريکايانو بمباردمان شول، په خپلوکې سره ولويدل، تاريخي برم اوعزت يې ورپاتې نه شو، په اقتصادی لحاظ دنورو احتياج شول،له هيواده مهاجرشول، خو له دې ټولو سره سره يې بياهم د ديورند پرسردمعاملې مسووليت ته اوږې ورنه کړې،له يوه کاله راپديخواچې کرزي دامريکې په وړاندې خپل دريځ بدل کړ، له امريکې سره ستراتيژيک تړون چې په هغه کې د نظامي اډو خبره مطرح ده تراوسه نه لاسليک کوي،کيدای شي که پرخپل دغه دريځ باندې ولاړپاتې شي ددې معنا به بياهم داوي چې کرزی هم نه غواړي ځان دهغې پراخې معاملې منځ ته ورواچوي چې دهغې له مخې بايد ديورند کرښه په رسميت وپيژندل شي،کرزي ته دنژدې سرچينی نقل قول دی چې وايی : « په يوسفرکې بوش په ناڅاپی توګه ورته وويل چې آيا حاضريی پرديورند بيله شوې خاوره بيرته دځان کړې؟ کرزی يی له سخت ناڅاپی سوال سره مخامخ کړ،خو له يوڅه سوچه وروسته يي ورته وويل چې :هو،غواړم يي ، په دغه باره کې به يوه ثانيه هم غفلت ونه کړم .... خو امريکايانو بيا له هغې ورځې وروسته کرزي ته داخبره ورياده هم نه کړه اونه يي نورڅه وويل ... » ( د ش . ا . شخصي څرګندونې ۱۳۹۳ دثور ۲۴
زه هيله من چې دغه خبره رښتياوي او کرزی يي خپله يوه ورځ ددغه ملت په وړاندې ووايي .

دهمدغې يادونې په پام کې نيولو سره اميرحبيب الله خان هم يوافغان و، يوشعوري افغان واکمن و،هغه دخپل دغه سفرپه ترڅ کې په سلګونوپوځيان چې په هرډول پوځي شونتياوو سمبال وو له ځان سره ملګري اوترتش په نامه سرحد يي هغې خوا ته دخپل پرتم اوخپل تيرتاريخ په پام کې نيولو سره ور واړول،دغوپوځيانو پرته له دې چې کوم پاسپورت او ويزه له ځان سره ولري هلته په بيلابيلومراسمو کې برخه واخيسته، داسې چې دزياتروننداره يی نه يوازې په قبايلي سيموکې خلک ګوته په غاښ کړل ، بلکی دهندوستان نوابي سستم ته يی په ځانګړې توګه ديوه خپلواک عمل ننداره لکه چې اميرحبيب الله خان اوس هم د اسلام لوی ټولواکمن وي ور وښوده ،چې دده دغه حرکت له شکه پرته په راوروسته کې دهندستان دننه دسرکښی له غورځنګ سره په غيرمستقيمه توګه تاريخی مرسته وکړه .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

امیرحبیب الله خان له یوه پوځي مانورسره یوځای دبریتانوي هند زړه ته ورننوت او دغه پوځیان یي تراګرې پورې له ځان سره درلودل اوداګرې دلوی دربار د مراسمو په رسمي مراسموکې یې هم برخه واخیسته ، له یوې لنډې مودې وروسته یې دهغوی لویه برخه بیرته افغانستان ته راستنه کړه ، میک ماهن دغې موضوع ته په خپل دغه راپورکې اشاره کړې اودافغان پوځیانو د تیاري په اړه لیکي :

**»موږ دلته ترخپل وخت دمخه رارسیدلي وو،موږ دانتظارپه شیبوکې ولیدل چې دافغاني پوځیانو ډله اودسامانو(مال) ګاډی زموږ له مخې تیرشول، زه په دغه وخت کې له شکه پرته دیوشمیرجالبواواوچتو نندارو اوکړو وړو تراغیزلاندې راغلی وم لکه دپلیو سرتیرو تیریدنګ (رسم ګذشت) اوپه ځانګړې توګه ددوی دپاملرنې وړتیاریو ، وړتیا چې په خورا اوچته روحیه او وړتیا سره سمبال اوبرابرشوي وو اوپه ځانګړي پرتم زموږ په مخکې تیرشول. دوی په دغومراسمو کې له هغوافغاني سرتیرو سره بشپړ توپیردرلود، هغه چې ما تردغو مراسموپخوالیدلي وو...»**

امیردخپل دغه سفرپه ترځ کې په کانپور، کلکته ، بمبی ، ډیلي ، اولاهورکې دیوشمیرپوځي مهماتو دفابریکو له خاوندانوسره لیدنې کتنې درلودې له هغوی یی یولړپوځي مهمات لکه وسلې ، باروت، آسونه اونور وپیرودل اودهغو زیاته برخه کې یې دخپل سفرپه اوږدو کې له نوموړو سیموڅخه دپیښوراو لنډي کوتل له لارې افغانستان ته واستول. په دغو وسایلو کې دکابل ماشینخانې تولې هغه اړتیاوې هم شاملې وي ، هغه چې دهندوستان په بیلابیلو ښارو کې موندل کیدې، امیربرسیره پردې یوشمیرپوځي کارپوهان اود وسلوجوړولو ماهرین هم پرهمدغه مهال افغانستان ته راوستل څودهغوی په مرسته  خپل پوځ په عصري وسلواومهماتوسمبال کړي .ده غوښتل چې یولوی او په هرڅه سمبال پوځ ولري ، میک ماهن په دغه اړه هم خپله خبره لري چې وایي :

**«ما واوریده چې کله امیرنن له خپلوسردارانوسره خبرې کولې، هغوی ته یې خپل هغه اغیزچې پرونی پوځی مارش پرې کړی و په ستاینې سره یاداوه.  ده محمدآصف خان اومحمدیوسف خان ته دمخ په اړولوسره وویل : « تاسې به اوس بیا ماته وایاست چې افغانی پوځ پرانګریزي پوځ باندې لوړاواوچت دی،خو ماته اوس دا په ډاګه شوه چې دبریتانوي پوځیانودغه مارش اودتوپچی وړتیا زه له حیرانتیاسره مخامخ کړم، زه فکرکوم چې دابه یوه پیړۍ وغواړي چې افغانان دې دداسې یوښه سمبال شوی پوځ اونظم خاوندان شي.»**

زما لپاره او کیدای شي دهرلوستونکي لپاره د دومره زیاتوپوځیانو بیول اودهغوی پرتم ښودل، د امیرله هغه فطري اوشعوري درک سره په ارتباط کې خبره ده چې له یوه خپلواک او پرماضي مین واکمن سره دفرصتونو په پام کې نیولو سره مطرح وي . خکه دتاریخ په اوږدو کې هرواکمن تل خپل واکونه اومجبوریتونه درلودل ، چې په اوسني عصرکې هم دغه لړۍ په څرګنده توګه زموږ ملت، زموږ لاچاري واکمنان ترهغه مهال په بدرنګو ډولونو کې پرځان اوملت باندې وینې اودهغوی په کچه یې هم پر وړاندې  څه نه ویلای شي اونه کولای  !!! .



برج ساعت  پل محمود خان  چی جمیز میلر جوړ کړی و.  ۱۹۰۷

پاتې لري...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ